# ثوک چې د هر فرض لمانځه پسې آيت الکرسي ووايي، نو هېڅ شی به هغه جنت ته له ننوتلو منع نه کړي، تر څو چې مړ شي

له ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: "څوک چې د هر فرض لمانځه پسې آيت الکرسي ووايي، نو هېڅ شی به هغه جنت ته له ننوتلو منع نه کړي، تر څو چې مړ شي".

[صحيح دی] [النسائي په الکبری کې روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر راکوي چې څوک د فرض لمانځه پسې آيت الکرسي ولولي نو له مرګ پرته به يې بل هېڅ شی جنت ته له ننوتلو منع نه کړي؛ او دا آيت په سورة البقره کې د الله تعالی دا وينا ده: {اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ مَنْ ذَا الَّذِي يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلَّا بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَاءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَلَا يَئُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيمُ}. (الله (چې دی) نشته هېڅ لايق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پرکالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي، او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوك دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې د دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) يې وغواړي، د هغه کرس د اسمانونو او د ځمکې څخه پراخه ده او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت دی، ډېر لوی دی). [البقرة: 255].



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee